# د سر تور فقیر د زېږون نېټه، یو سپیناوی

## A critical analysis of the date of birth of Sar Toor Faqeer

بدرالحکیم حکیمزی [♣]

سجاد ژوندون[♥]

**Abstract:**

Sartor Faqeer is one of the prominent freedom fighter of KPK during the era of British Imperialism in sub-continent (K.P.K) Along with many other aspects of his life and struggle, his date of birth is also not clearly identified. In this article his date of birth is strived to be identified correctly, which will obviously help the pashtoon history to be authentically arranged.

**Key Words:** prominent, sub-continent, obviously, authentically.

د خپلواکۍ اتل او یو نوموړی قامي مبارز سعد الله خان د تاریخ په پاڼو کښې د سرتور فقیر تر څنګه د فقیر بابا، ملا مستان او مست فقیر په نومونو هم یاد شوی دی. د پلار نوم یې حمید الله خان دی او په خټهٔ د رېګا بونېرد نورېزي، ملیزي، یوسفزي د یوې څانګې ابازي سره تړون لري. په ځلمیتوب کښې ئې د ۱۸۶۳ء د امبېلې په غزا کښې ګډون کړی ؤ. دغه جګړه د سیدو بابا تر مشرتابهٔ لاندې د یوسفزو او فېرنګي جرنېل مېجر جنرل چمبر لېن تر منځه شوې وه. په دې غزا کښې د سر تور فقیر ورور زرداد پهلوان شهید شوی ؤ. څهٔ وخت پس د فقیر بابا له لاسه خپل وراره مړ شو او قامي جرګې دسزا په توګه هغه د پنځلسو کلونو لپاره لهٔ کلي نه شړونکی کړو. سر تور فقیر چې کله لهٔ کلي ووت، نو وړومبی افغانستان او بیا هندوستان ته لاړ. د پنځلسو کلونو په ځائې ئې شل کاله بهر تېر کړل. په افغانستان او هندوستان کښې د انګرېز سامراج په ضد له روانو غورځنګونو ئې الهام او هڅونه واخسته. بونېر ته په راګرځېدو ئې د فېرنګیانو خلاف د غزا تیاري شروع کړه. په دې ترڅ کښې سوات ته راغی او فتح پور کلی ئې د خپل جنګي کېمپ په حېث وټاکهٔ. دغه کلی ډېر لرې د غرونو په مېنځ کښې پروت دی. بل په سوات د فېرنګیانو حکمراني نهٔ وه نو ځکه فقیر بابا د خپلواکو خلقو دغه خوندي ځائی د مرکز په حېث غوره کړو. په جولائي ۱۸۹۷ء کښې سر تور فقیر په ملاکنډ حمله وکړه. دوه هفتې دا جګړه په ملاکنډ او چکدره کښې روانه وه. چې دواړو سیالو ډلو ته پکښې درنه مرګ ژوبله واوښته. نوموړي غازي ته د فېرنګیانو په لسمه زهر ورکړی شول او د دغو زهرو له اغېزه ئې په ۱۹۱۷ء کښې له دې نیمګړې نړۍ نه د تل لپاره خپلې روښانه سترګې پټې کړې. ځلی ئې د فتح پور کلي په ادیره کښې د خپل ویاړلي تاریخ د بېلګې په توګه پروت دی.

---

[♣] Lecturer, Bacha Khan University,Charsada,Khyber Pashtoonkhwa.

[♥] PhD.Scholer Peshawer University.

د پښتون تاریخ او پښتو ادب یوه لویه بد مرغي دا ده چې د ګڼ شمېر نامتو کسانو د زېږون او مړینې نېټې ئې په سم ډول څرګندې نهٔ دي. چې د ټاکلو لپاره ئې له اټکله کار اخستی کیږي. په دغو کسانو کښې یو د نامې جامې خاوند سر تور فقیر هم دی. هغه سر تور فقیر چې دښمن فېرنګی،مک میهن ئې نارینتوب ستائي او وائي:

"رښتیا خبره دا ده چې فقیر ځان یو نر سړی ثابت کړو."(۱)

د دغه نر سړي د زېږون نېټه لاتراوسه د رڼاوي او سپیناوي له پړاوه نهٔ ده راتېره شوې. دا چې له نېکه مرغه فېرنګي او پښتنو تاریخ لیکونکو ئې د مړینې نېټه په غوڅ ډول ښودلې ده. لکه د ډاکټر سلطان روم له وېنا سره سم،

" په جنوري ۱۹۱۷ء کښې د ۹۰ کلونو په عمر کښې مړ شو."(۲)

یا د محمد علي دینا خېل په وېنا

"په کال ۱۳۳٦هـ ۱۹۱۷ء کښې په فتح پور کښې وفات شو. "(۳)

هم دغه شان خالد خان خوېشکی وائي چې:

" په ۱۹۱۷ء میلادي کال په سوات کښې وفات شو"(۴)

که د مړینې د نېټې په حقله ئې لیکونکي یوه خلهٔ دي. نو د زېږېدنې تاریخ ئې په بېلا بېلو کتابونو کښې د توپیر په بڼه تر سترګو کیږي. یا چا بیخي ښودلی نهٔ دی. لکه دینا خېل لیکي:

" د کال ۱۸۳۰ .۱۸۲۰ خواوشا پېدا شوی دی."(۵)

دغسې د خالد خان خویشکي په وېنا د ۱۸۱۷ ء - ۱۸۲۷ء میلادي کلونو تر منځ د بونېر رېګا نومې سیمه کښې پېدا شوی."(۶)

او بیا د دغه لیک په مخ ۱۷۱ لیکي :

" وئیل کیږي چې سر تور فقیر د سلو کلونو په عمر کښې ومړ" دا وېناوې څرګندوي چې فقیر بابا (ا) د اتیا ، نوي یا سلو کالو په عمر کښې مړ دی. که د نوي کلونو په عمر کښې مړ وي نو بیا د خپلې مړینې د کال ۱۹۱۷ء په اتدازه په ۱۸۲۷ء کښې زېږېدلی ؤ. (ب) که د سلو کالو په عمر کښې مړ وي، نو بیا اندازاً په ۱۸۱۷ء کښې زېږېدلی ؤ. (ج) که د اتیاؤ کلونو په عمر کښې مړ وي نو بیا ئې د زېږون نېټه ۱۸۲۰ء ، ۱۸۳۰ء یا ۱۸۲۷ء نهٔ ، بلکې ۱۸۳۷ء جوړیږي. په دېوؤ او دغسې نورو لیکونو کښې د سر تور فقیر د زېږېدنې نېټهٔ په اټکل ښودلې شوې ده. خو بل خوا کوم داسې کوټلی دستاوېز په لاس کښې نهٔ لرو چې په هغه کښې سر تور فقیر په خپله ، د هغه همعصر یا د هغهٔ زمانې ته نېژدې چا د هغهٔ د زېږون په حقله کوم باوري معلومات خوندي کړي وي. که داسې دستاوېز نهٔ لرو، نو د څېړنې په ترخ کښې باید یاد ولرو چې :

"د یوې خاصې خبرې په حقله چې مونږ ئې مرسته او لټون کوؤ، نو بویه چې د مطلب زمانې ته څومره نزدې جې کېدی شي. هغه اسناد ولټوؤ او ورسره د هغو

روايتونو نه هم چې له ډېرې مودې راسې کان په کان په اولس او هېواد کښې راروان او خوارۀ وي، هم فايده واخلو."(۷)

سينه په سينه له رارسېدلو رواياتو او بيا د دستاويزي معلوماتو د کره کتنې له لارې د سر تور فقير د زېږون نېټۀ سمه يا سمې ته نژدې ټاکلی شو.

وړومبی به روايت وڅېړو. د برې درشخېلې وکيل خېرالحکيم حکيمزی د لور له خوا د سرتور فقير کړوسی، اعلي تعليم يافته،سياسي او ادبي شخصيت ، د ګڼ شمېر تخليقي او تحقيقي کتابونو ليکوال دی. زما د تپوس په ځواب کښې هغه خپل کورني روايات داسې راشريک کړل.

"سر تور فقير د امبېلې په غزا کښې د ۲٦ کلونو په عمر کښې جنګېدلی ؤ او د دۀ مشر ورور زرداد پهلوان په دې جهاد کښې شهيد شوی ؤ. د دغه جګړې نه پنځه شپږ کاله پس دې له خپل کلي نه په وتو جرګې مجبوره کړی ؤ. د مسافرۍ نه چې واپس راغی نو درې څلور کاله په کلي کښې وسېدۀ. بيا د دوه درې کالو د پاره شانګلې ته لاړو په اخر کښې فتح پورته راغی او دلته پوخ کښېناست. دۀ به ساده جامې اغوستې او ساده خوراک به ئې خوړو. د مال دولت او زمکو جمع کولو شوق ئې نۀ کاؤۀ. ډېر بارعبه سړی ؤ. او د انګرېزانو نه ئې ډېر نفرت کاؤۀ او وجه ئې دا وه چې د پښتنائۀ په حېثيت ئې د چا غلامۍ ته غاړه نۀ اېښوده. بل انګرېزانو د امبېلې په جنګ کښې د دۀ وروو وژلی ؤ او درېم په بونېر کښې د هندي مجاهدينو اثر لاپاتې ؤ. چې دی ئې هم متاثره کړی ؤ."

څنګه چې خالد خان خوېشکی د "ګندهارا" په مخ ۱٦۹ ليکي: .

"په ۱۸٦۳ء ميلادي کال د امبېلې په جنګ کښې د انګرېزانو خلاف جنګېدلی ،چې په دغه جنګ کښې ئې ورور او نور خپلوان هم وژل شوي وو." او د وکيل حکيمزي د وېنا تر مخه ئې دغه وخت عمر ۲٦ کاله ؤ، نو د زېږون نېټۀ ئې ۱۸۳۷ء، جوړېږي. دغه شان چې د ۱۸٦۳ء له غزا نه پنځه شپږ کاله وروسته له کلي شړونکی شوی ؤ. نو دغه کال ۱۸٦۹ء او د دۀ عمر ۳۲ کاله جوړېږي. له کلي نه بهر په افغانستان او هندوستان کښې ئې شل کاله تېر کړي دي. چې د بېرته ستنېدو کال ئې ۱۸٦۹ء او عمر ئې ۵۲ کاله اټکليدی شي. دوه درې کاله په کلي کښې او بيا ممکنه ده چې د ۱۸۹۲ .۱۸۹۳ء کلونه ئې په شانګله کښې تېر کړي او هلته ئې د غزا لپاره د اولس روزنه او هڅونه کوله. دلته ئې په کاڼا کښې دوېم وادۀ کړی ؤ او يو زوئی امير فقير اويوه لور باچا زرينه ئې زېږېدلي وو. بيا په ۱۸۹٤ء کښې چې عمر ئې ۵۷ کاله ؤ، فتح پور ته راغلی ؤ. په ۱۸۹۷ء کښې له فتح پور نه روان شوی او خپل باتور لښکر ئې د جولائي په مياشت کښې د ملاکنډ په مقام د انګرېزانو په کېمپ ورخېژولی ؤ. دغه وخت د دۀ عمر ۲۰ کاله ؤ. دا خبره په سليم عقل هم روغه ده ځکه چې د ٦۰ کلونو په عمر کښې ممکنه وه چې په فتح پور کښې درېم وادۀ وکړي. که چرې عمر ئې له ۲۰ زيات وی، نو شايد چې وادۀ ئې نۀ وی کړی. دا خبره هم دپاملرنې وړ ده. که چرې

فقير بابا له ۱۸۹٤ء تر ۱۸۹۷ء يعنې له ۵۷ نه تر ٦٠ کاله عمر پورې په فتح پورې کښې پاتې شوی نۀ وی، نو څنګه به ئې په لنډه موده کښې د پيرۍ او فقيرۍ نامه ګټله او څنګه به ئې ځوانانو جنګې روزنه کولی شوه. دلته دا خبره هم حقيقت ته هډو ډېره نۀ لګوي چې سرتور فقير له بونېر نه راغی او په لنډاکي کښې ډېره شوی ؤ. لکه سيد عبدالاحد شاه چې وائي:

"هغه له بونېر نه راغی، د سوات د لنډاکي په مقام ئې د اسلام غازيان راجمع کړل."(۸)

(ژباړه)سر تور فقير له بونېر نه نۀ بلکې له فتح پور نه خپل لښکر روان کړی او لنډاکي ته تلی ؤ. دا خبره هم د حقيقت سره هېڅ سمون نۀ خوري، چې الله بخش يوسفي وائي:

" کله چې په ۱۸۹۵ء کښې له اجمير شريف نه واپس راغی." (۹)

(ژباړه) که هغه په ۱۸۹۵ء کښې له هند نه بونېر ته راستون شوی وی نو د ۱۸۹۷ء پورې په درې کلنه لنډه موده کښې هغه څنګه په بونېر، شانګله او سوات کښې داسې ډېر مقبوليت پيدا کړی شو. د افغانستان، دير او باجوړ دورې ئې څنګه په دومره لږ وخت کښې وکړې. دغسې محمد شفيع صابر وائي:

" سر تور فقير د مشهور مجاهد حضرت نجم الدين هډه ملا صاحب مريد ؤ."(ژباړه)(۱۰)

که سر تور فقير له هند نه په ۱۸۹۵ء کښې بونېر ته ستون شوی وی. نو په دې لنډ تنګ وخت کښې ئې د جنګې تياريانو سره سره د خپل پير سره د ناستې ولاړې لپاره وخت څنګه وويست.

د سر تور فقير د مرګ ۱۹۱۷ء په حقله د انګرېز سرکار رد عمل ډاکټر سلطان روم د هغوي له خُلې ليکي:

" دخپل ژوند اخري شل کاله د هغه په ذهن د کافرو سره د جنګ کولو لېونتوب سور ؤ. په دې دوران کښې ئې د حالاتو خرابولو موقع لاسه نۀ ورکوله. په اګست ۱۹۱۵ء کښې په سرکاري فوځونو باندې د حمله کوؤنکې لښکر سره هغه همغاړې ؤ. د هغه په مرګ ايجنسي د دې خطرې نه پاکه شوه ."(۱۱)

(ژباړه)د ۱۹۱۵ء د دغو جګړو په لړ کښې د حاجي صېب ترنګزي کردار عزيز جاويد بيانوي، ليکي:

"حاجي صېب، سر تور فقير د چغرزو او حسن زو قبائلو څنګ ته ولېږۀ، چې هغوي دا اوګې په محاذ حملې کولو ته تيار کړي." ژباړه) (۱۲)

کله چې په ۱۹۱۵ء کښې د هغه صحت د دې جوګه ؤ چې د انګرېزانو سره لاس په لاس تورې وجنګوي، نو په باوري توګه يې عمر له ۷۸ کلونو نه زيات نۀ ؤ. او که عمر ئې ۷۸ کلونه وګڼو نو د زېږون نېټه ئې ۱۸۳۷ء راځي. که د دينا خېل په وينا ئې د ۱۸۲۰ء او ۱۸۳۰ ء تر مېنځه يعنې

په ۱۸۲۵ء کښې زېږېدلی وګڼو نو په ۱۹۱۵ء کښې د ۹۰ کلونو په عمر او که د خالد خان په وېنا ئې د ۱۸۱۷ء تر ۱۸۲۷ تر مېنځه یعنې په ۱۹۲۲ء شاوخوا کښې زېږېدلی ومنو نو په ۱۹۱۵ء کښې ئې عمر ۹۳ کلونه ؤ. چې په دې عمر کښې په سپین مېدان سپینې تورې پړقول ناشونی کار دی. ځکه نو په ډاډه زړهٔ وئیلی شو چې سر تور فقیر په کال ۱۸۳۷ء کښې زېږېدلی، په کال ۱۹۱۷ء کښې وفات شوی او د مړینې په وخت ئې عمر اتیا کاله ؤ.

## حوالې


(۱)مک مېهن، دا خاوره او دا خلق، ژباړن، ډاکټر خالق زيار، ملاکنډ، پښتو ادبي جرګه، ۱۹۹۶ء، مخ ۱۹۰

(۲) سلطان روم، ډاکټر، رياست سوات، ترجمه، پروفېسر احمد فواد، منګوره، ناشر ،فضل راهي راهي، ۲۰۱۳ء، مخ ۷۵.

(۳) دينا خېل، محمد علي، د سر تور فقير ژوند او مبارزه، مقاله، مشموله، مياشتنۍ ليکوال، پېښور،اکتوبر .نومبر ۲۰۱۵ء، مخ ٦٤.

(۴) خوېشکی، خالد خان، ګندهارا، مشال راډيو، د خپرونو لړ، ۳، ۲۰۱٦ء، مخ ۱٦۸.

(۵) دينا خېل، محمد علي، د سرتور فقير ژوند او مبارزه، مخ ۵۸.

(۶) خوېشکی، خالد خان، ګندهارا، مخ ۱٦۸

(۷) کامل، دوست محمد خان ، دعلي خان کور او قبيله، تهذيب و تحشيه، محمد زبېر حسرت، مقاله،درې مياشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډيمي، جلد ۳۵، شماره، ۱۲ ، ۱۱ ، ۱۰،اکتوبر، نومبر، دسمبر، ۲۰۰٤ء مخ ۸۲.

(۸) عبدالاحد شاه، سيد، تذکره سادات ترمذي، لاهور، الوثاق، اردو بازار، ۲۰۱۳ء، مخ ۲۰۳.

(۹) يوسفي، الله بخش، تاريخ رياست سوات، کراچي نمبر ۲، محمد علي ايجوکېشنل سوسائټي، بار اول، س ن ، مخ ٦۱.

(۱۰) صابر، محمد شفيع، ، تذکره سرفروشان سرحد، پشاور، يونيورسټي بک اېجنسي، س ن ، مخ ۱۳۷.

(۱۱) سلطان روم، ډاکټر، رياست سوات، مخ ۷٦

(۱۲) عزيز جاوېد، حاجي صاحب ترنګزي، پشاور، اداره تحقيق و تصنيف پاکستان، بار دوم، ۱۹۸۲ء، مخ ۱۷۵.